دَ ماشومانو دَ پاره لیکلی شوی نظمونه

# ساز دَ ماشومانو

تصنیف

مولانا احمدعلی مردانی
ساکن یونیورسټی روډ خوره بانډه مردان

ناشر

اسلامي ادبي ټولنه مردان

0312-9818511

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسم اللّٰه الرحمٰن الرحيم

## حمد باری تعالیٰ

څه چي دلته په دُنيا دي
رَبه ! ستا دي، رَبه ستا دي

كه څه بره په آسمان دي
يا څه لاندي په جهان دي

كه ستا نه دي نور دَ چا دي؟
رَبه ! ستا دي، رَبه ستا دي

نيشته شك په كښي بيشكه
ياد ساته دغه هلكه

ستوري ټول كه دَ رڼا دي
رَبه ! ستا دي، رَبه ستا دي

ستا په حكم موسمونه
پيدا شوي ټول څيزونه

دا چي دلته څه هر خوا دي
رَبه ! ستا دي، رَبه ستا دي

دَ احمد په دي ايمان
كلك يقين په دي جهان

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ظاهر کۀ څه زما دی

ربّه ! ستا دی ، ربّه ستا دی

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

غواړی زړۀ مي دَ جانان ﷺ کلی ته تګ
هغه ښکلی عالیشان کلی ته تګ

دا به کله شي نصیب مولا زما
دا به کله شي نصیب الله ! زما
غواړم زۀ دَ مهربان کلی ته تګ
غواړی زړۀ مي دَ جانان ﷺ کلی ته تګ

دا مي دلته هر ساعت ده تمنا
دا مي دلته یو ارمان دے یو دُعا
له هر شر نه په امان کلی ته تګ
غواړی زړۀ مي دَ جانان ﷺ کلی ته تګ

نور رڼا سره خوشبوده په هر خوا
داسي در دَ مصطفیٰ ﷺ دے ښه اعلا
دَ نبی اخرزمان ﷺ کلی ته تګ
غواړی زړۀ مي دَ جانان ﷺ کلی ته تګ

مخامخ راته روضه وی دَ جانان ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ احمدعلی دَ ژوند دے دا ارمان
دَ سکون دَ اطمینان کلی ته تګ
غواړی زړهٔ مې دَ جانان ﷺ کلی ته تګ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښکلي په ښارونو کښې حسینه مدینه ده
څکه کور دَ پاك نبی ﷺ دے دلته کښې روضه ده
هرطرف ته نور په کښې سیدالوریٰ ﷺ تمام
نور دَ مصطفیٰ ﷺ په کښې په هرطرف په هر مقام
نورانی ورسره مدینه کښې هر حصه ده
څکه کور دَ پاك نبی ﷺ دے دلته کښې روضه ده
ټوله دا خوشبو خوشبو ده سید الوریٰ ﷺ سره
ټوله دا خوشبو خوشبو ده دا زمونږ آقا ﷺ سره
دا دَ پاك حضور ﷺ دَ صحابهؓ یو ګلدسته ده
څکه کور دَ پاك نبی ﷺ دے دلته کښې روضه ده
هلته کښې سکون لره څی هر بشر له دلته نه
هلته بنه ژوندون لره څی هر بشر له دلته نه
ورسره دا دَ علم اورنا یوه چینه ده
څکه کور دَ پاك نبی ﷺ دے دلته کښې روضه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوال ورته دَ تلو کوی احمدعلی په جار څکه
سوال ئي دَ ليدلو کوی احمدعلی باربار څکه
څکه په ليدو کښي ټول وائي ښهٔ مزه ده
څکه کور دَ پاك نبی ﷺ دے دلته کښي روضه ده

## زهٔ پښتو يم ، زهٔ پښتو يم

زهٔ پښتو يم زهٔ پښتو يم
ژبه ډيره دَ فائدو يم
ما حصه دَ خپل نصاب کړے
ما په خپلو کښي حساب کړے
زهٔ دَ لويو دَ وړو يم
زهٔ پښتو يم زهٔ پښتو يم
سپکه نهٔ يمه درنه يم
پښتو ژبه ، ښه خوږه يم
هم دَ خپلو دَ پردو يم
زهٔ پښتو يم زهٔ پښتو يم
خپل تحرير لرمه دلته
ښهٔ تصوير لرمه دلته
زهٔ زړه ښه دَ مودو يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه پښتون يم زه پښتون يم

چې څه به وي هغه زه يم
اُوس ته ووايه چې څه يم؟
قيمتي لکه د سرو يم
زه پښتون يم زه پښتون يم

زه هم مينه محبت يم
زه هم چغه د غيرت يم
وُلې نن په هېرېدو يم؟
زه پښتون يم زه پښتون يم

هم وفا يمه ريښتيا يم
تل احمده! زه حيا يم
ژوندي ژبه د ژوندو يم
زه پښتون يم زه پښتون يم

.......................

## اسکول ته ځم

موري مدرسي ته ځم
اسکول دغي نزدي ته ځم
هلته به ادب زده کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دا به په طلب زده کړم

قدر به د مشر کړم
مینه به په کشر کړم
یادوم به زهٔ سبق
یادوم به ښهٔ سبق
لیکم په قلم به زهٔ
کړم لیکل ټول سم به زهٔ
زهٔ به هم محنت کوُم
زهٔ چې لږ همت کوُم
ژوند د کامیابي نه ډك
ښکلي زندګي نه ډك
نصیحت هرچا ته دا
احمده! دُنیا ته دا

...........................

## پاس شُو مه اوُل ته شوم

پاس شو مه اول ته شوم
شکر دے کلاس بل ته شوم
نور به کتابونه وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نور به سبقونه وي

هغه تپول به زۀ یادووم
هغه تپول به ښۀ یادووم
څۀ چې لیکم دلته کښې
ښۀ به لیکم دلته کښې
ښی لاس کښې قلم به وي
هله لیکل سم به وي
لیکم په سیې به هم
لیکم په تختی به هم
ماسره پنسل به وي
تاسره پنسل به وي
دي سره کاپو کښې به
لیکم په پښتو کښې به
لیکم به صفا صفا
لیکی چې اُستاذ ما
دلته چې لیکم هغه
تل به یادوُم هغه
ماسره ربړ به وي

ماسره شارپنر به وي

هر څهٔ په بسته کښې به

وي په مدرسه کښې به

ناست به په ادب يمه

بيچ به زهٔ له ډب يمه

کار چې وي د کور زما

راسره کړي ورور زما

هله زهٔ اُوزګار شمه

فارغ چې له کار شمه

بيا زهٔ اُودهٔ کيږمه

کټ ته نزدې کيږمه

د احمدعلی وينا

ياده به وي تل زما

---

## پاس شومه اُوس دويم ته شوم

تاسو وائي څويم ته شوم

پاس شومه اُوس دويم ته شوم

مخکښي ووم اَول کلاس کښي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اُوس یمه بدل کلاس کښې
خوښ مې کتابونه دی
خوښ مې سبقونه دی
لیکم په تختې سبق
ښه په خوشخطې سبق
کلاس یا چې دَ کوروی کار
لیکم نه چې شوروی کار
څه په کښې سوالونه دی
څه ئې جوابونه دی
ډک خالی ځائونه کړو
ختم چې سوالونه کړو
هم زهٔ انګریزی لیکم
هم به ریاضی لیکم
لیکمه پښتو په شوق
لیکمه اُردو په شوق
لیکم اسلامیات ښکلې
په قلم دوات ښکلې
سبق چې پوره کړمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا لړه دمه کړمه
هر یو یادوُم سبق
کله چي لیکم سبق
داسي دي ژوندون زما
دا دَ زړهٔ سکون زما
ما احمد یاد کړی دی
څهٔ چي ما لیکلی دی

...............................................................

## قلم

کار زما دے دَ لیکلو
اے زما ملگرو ! خپلو
څه چي لیکم نو دلیل وی
مختصروی یا تفصیل وی
یم حاضر په یادولو
اے زما ملگرو ! خپلو
دا کتاب تهول ما لیکلي
داحساب تهول ما لیکلي
دَ روپي کهٔ وی دَ سلو

اے زما ملګرو! خپلو

ډاکټران راته محتاج دي
کاتبان راته محتاج دي
دا بيان دے دَ منلو
اے زما ملګرو! خپلو

هر دُکان کښې مدرسه کښې
په دفتر په بازار کښې
مددګار يمه دَ کلو
اے زما ملګرو! خپلو

هله کار کوُم چې موريم
خۀ اظهار کوُم چې موړيم
په سيې مدام په خکلو
اے زما ملګرو! خپلو

زۀ دي هرخوا پکاريږم
تاسره خواته اُوسيږم
ستا يم جيب کښې دَ ساتلو
اے زما ملګرو! خپلو

ښۀ چې غواړے هغه ليکم

څۀ چې غواړے هغه لیکم
زۀ په لاس یم یا دَ شلو
اے زما ملګرو! خپلو
عزت مند یم، عزت غواړم
لږ احمده! محنت غواړم
خوشحالیږم په نیولو
اے زما ملګرو! خپلو

.........................................

## بسته

بسته ښکلي بسته ده
په مَلا زما پرته ده
په کښې دی کتابونه
پنسلیڼ دی رنګونه
وړوکښې ئې مزه ده
په مَلا زما پرته ده
اغستي رالي په پلار ده
راوړي ئې له ښار ده
ډېله ئې کپړه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـه مَلا زما پرته ده

په کښې تولي کاپي دي
اُردو د انګریزي دي
په دي لړه درنه ده
په مَلا زما پرته ده

په کښې دوات قلم دے
هر خواته محترم دے
غریب یمه، زړه ده
په مَلا زما پرته ده

سلیټ په کښې تختي شته
کاپی د خوشخطي شته
خرابه نۀ ده ښه ده
په مَلا زما پرته ده

ما وړي مدرسې ته
نظروی زما دي ته
ورسره مې رشته ده
په مَلا زما پرته ده

قیمت باندي ارزانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمده ! قدردانه

رنګینه یا ساده ده
په مَلازما پرته ده

.........................................

## کمپیوټر

څۀ یم څۀ یم ؟ کمپیوټر یم
ضرورت دَ بشر یم
ښۀ لیکوال دَ کتابونو
زۀ لیکوال یم دَ شعرونو
ښۀ کاتب یم ، کمپوزر یم
څۀ یم څۀ یم ؟ کمپیوټر یم
هر حساب ته زۀ تیار یم
زۀ دَ خلقو خدمتګار یم
ښۀ په تول تل برابر یم
څۀ یم څۀ یم ؟ کمپیوټر یم
ضرورت دَ دفترونو
ضرورت یم دَ کورونو
زۀ یو ښکلی مصور یم

څه يم څه يم ؟ کمپيوټريم

هغه څه بلته چې ګران وی
ماته هغه ټول اسان وی
ښه مشين دَ لراوبريم
څه يم څه يم ؟ کمپيوټريم

ډير څه دی زما سينه کښې
په وړه ، لويه بکسه کښې
زۀ دَ هر انسان نوکريم
څه يم څه يم ؟ کمپيوټريم

په کی بورډ سره خبريږم
په ماؤس پوره پوهيږم
سی پی يُو يم مانيټريم
څه يم څه يم ؟ کمپيوټريم

نيټ سره چې يوځائې کيږم
بيا په ډير څه زۀ پوهيږم
څه پرزې يم ، يو څادريم
څه يم څه يم ؟ کمپيوټريم

کارخانو کښې پکاريږم

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارخانو کښې تیارېږم
زهٔ احمده! یو ګوهر یم
څهٔ یم څهٔ یم؟ کمپیوټر یم

.............................................

## څلور موسمونه

ټول څلور دي موسمونه
بیل جُدا الري رنګونه
په یخنۍ کښې یخنۍ ډېره
په ګرمۍ کښې ګرمي ډېره
په سپرلي کښې وي ګلونه
ټول څلور دي موسمونه
په خزان کښې پاڼې وُچې
هر مکان کښې پاڼې وُچې
وي سپېره بادونه
ټول څلور دي موسمونه

.....................................................

..............................

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دَ یخني موسم

تیر دَ گرمي موسم دے
یا دَ یخني موسم دے
نه مرته مزه کړي ناسته
نه مرته مزه کړي ملاسته
ځان گرموي موسم دے
یا دَ یخني موسم دے
گرم بنین واچوے
نرم بنین واچوے
گرمه تهوپي موسم دے
یا دَ یخني موسم دے
ناسته بیا اُور ته عام شوه
ناسته دَ کور مدام شوه
یا دَ شپړي موسم دے
یا دَ یخني موسم دے
برستن کښي پټ شوانسان
کمبل کښي پټ شو جهان
ځان تودوي موسم دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا دَ یخنۍ موسم دے

موزي هرخوا خرڅیږي

واخله هم دا خرڅیږي

دا واچوي موسم دے

بیا دَ یخنۍ موسم دے

کوټ ، جرابي په خپو شوے

هم دَ لویو ، وړو شوے

یاد نیۀ ساتي موسم دے

بیا دَ یخنۍ موسم دے

پاخه مهیان په کنبي کړے

غوښي په کنبي تکي کړے

ګرم کړه پي موسم دے

بیا دَ یخنۍ موسم دے

شات دَ مزو را واخله

شات دَ مچو را واخله

لږ اُوخکي موسم دے

بیا دَ یخنۍ موسم دے

لري کړي یخ څیزونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي په وخت مونځونه

مزه کړی چې موسم دے
بیا د یخني موسم دے

نۀ د پکې ضرورت
نه دے بیخي ضرورت
بس بندوي موسم دے
بیا د یخني موسم دے

ورځې په کښې وړې وی
په کښې تودي چینې وی
داسي راغي موسم دے
بیا د یخني موسم دے

حق د احمد ګفتار دے
نه مې شربت پکار دے
دا یادوي موسم دے
بیا د یخني موسم دے

.............................................................

.............................

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کونتره

ماساتلي ده کونتره
ده زړه وره ، بازيګره
دالوځي په هوا کښې
بره بره په دُنيا کښې
ځي دا بره له نظره
ماساتلي ده کونتره
نه يريږي غرځيدونه
مزه اخلم ئي نخرونه
توره سپينه نره نزه
ماساتلي ده کونتره
په کوشش دا بره کيږي
ورته ګوره اُوچتيږي
نصيحت واخله بشره !
ماساتلي ده کونتره
په خوئي دا مړه مړه ده
په وجود ډيره خائسته ده
نه له چا ده مروره

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ماساتلي ده کونتره

ماشومان په دي قلاروی
چې خوارك كړي په غُراروی
نه ساتم دغه نهره
ماساتلي ده كونتره
ورته زۀ په تماشا يم
ورته ښۀ په تماشا يم
اے احمده ! بي ضرره
ماساتلي ده كونتره

.................................................

## صفائی

صفائی ډير ښه عادت دے
دَ هر مشر نصيحت دے
دَ ايمان دغه حصه ده
زما كلكه عقيده ده
ښه عمل دَ ټول اُمت دے
صفائی ډير ښه عادت دے
مرضونه بيا به نۀ وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دا ګندونه بیا به نۀ وی

ډ بدن د تن صحت دے
صفائي ډېر ښه عادت دے

لوئي وړوکي دي صفا وی
پاك دي هر ځائي په دُنیا وی

ورسره سکون راحت دے
صفائي ډېر ښه عادت دے

روح خوشحاله ورسره وی
چي صفا کلي کوځه وی

دا بیان تهول حقیقت دے
صفائي ډېر ښه عادت دے

هر صفا انسان ښائسته وی
هر صفا مکان ښائسته وی

ورسره مدام عزت دے
صفائي ډېر ښه عادت دے

داسي هر یو مشر وائي
سبق بل ته احمد ښائي

ګندګي هر خوا لعنت دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



صفائی ډیر ښه عادت دے

## غم ښادی

غم ښادی ده ورور او خور
میلمانهٔ دی د هر کور
نن زما کور ته راغلی
صبا ستا کور ته راغلی
د تقدیر په سورلي سُور
غم ښادی ده ورور او خور
د هر چا په خپل دے حق
یاد ساته د بل دے حق
یاد وی دا، چي یاد وی کور
غم ښادی ده ورور او خور
مدام کله تکلیف غم وی
یو شان کله دا موسم وی
غریبی نه ده پیغور
غم ښادی ده ورور او خور
چي ښادی وی نو غم نهٔ وی
خوشحالی وی نو غم نهٔ وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله کله ژوند وی اُور
غم ښادي ده ورور او خور
دَ خپل ورور شه مددګار
لهٔ خپل ورور اُوچت کړه بار
په تا حق دے دَ خپل ورور
غم ښادي ده ورور او خور
کۀ دَ مړي وی خدمت
دا پکار دے هر ساعت
مۀ اُوباسي چغي شور
غم ښادي ده ورور او خور
چي ئي غم نه وی ښادی
تیروی څنګ زندګی
یوځائی دا دي په هرلور
غم ښادي ده ورور او خور
خپل خپلوان، دَ کاوند حق
تول دوستان . دَ هرچا حق
حق دَ پلار دے هم دَ مور
غم ښادي ده ورور او خور

دَ هرچا دی خپل حقوق
دَ دُنیا دی خپل حقوق
تپوس سره اجر نور
غم ښادی ده ورور او خور
دَ الله رضا ته گوره
دَ آقا ﷺ رضا ته گوره
فرق مه کړه دَ سپین تور
غم ښادی ده ورور او خور
لږ ژوندون احمده ! دا
دلته کښي په دي دُنیا
ورځي دی بس دوه ، څلور
غم ښادی ده ورور او خور

..................................................

## وائټ بورډ

سپین صورت دَ ژوند په روډ دے
وائټ بورډ دے وائټ بورډ دے
هریو سوال په دي حل کیږی
په دِ ستهر دا صفا کیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخامخ وي په هر کلاس کښې
ويمار کړۀ اُستاذ لاس کښې
هر اُستاذ په دې ليکل کړي
ماشومان ورته کتل کړي
کۀ اُردو کۀ انګريزي وي
دا پښتو کۀ رياضي وي
هر مضمون لره دا ښۀ دے
دې ژوندون لره دا ښۀ دے
زۀ احمد په دې ليکل کړم
غوارم پوهه چې زۀ بل کړم

..................................................

## سليټ

ښۀ ارزان دے په ښۀ ريټ دے
تور سليټ دے، تور سليټ دے
په دُوکان کښې که په شل دے
کوالټي کښې هغه بل دے
په خادر پوره ښۀ تيټ دے
تور سليټ دے، تور سليټ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما راوړے له بل ښار نه

له ملګری رشته دار نه

لړیدلے لړ پـه بیـت دے

تور سلیت دے، تور سلیت دے

مدام لیکم خوشخطی زۀ

په سلیت په سلیټی زۀ

زۀ یم ناست چرته چې کیت دے

تور سلیت دے، تور سلیت دے

په اُوبو ئې لمدوُمه

په کپړه ئې پاکوُمه

ما زده کړے په دې ډیت دے

تور سلیت دے، تور سلیت دے

دا احمده! رياضی کښې

پکارېږی انګریزي کښې

مستطیل لکه چکلیت دے

تور سلیت دے، تور سلیت دے

............................................................

.....................

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کتاب

دَ ماشومانو لاس کښې هرخواته کتاب پکار دے
ددې ګلانو لاس کښې هرخواته کتاب پکار دے

دا کتابونه زمونږ ژوند ، معاشره جوړوی
ښهٔ سبقونه دَ ژوندون ښکلې نقشه جوړوی
دَ هلکانو لاس کښې هرخواته کتاب پکار دے
ددې ګلانو لاس کښې هرخواته کتاب پکار دے

ددې په وجه ډاکټران ، انجینیران جوړیږی
دَ مستقبل خائسته او ښکلی انسانان جوړیږی
تل دَځوانانو لاس کښې هرخواته کتاب پکار دے
ددې ګلانو لاس کښې هرخواته کتاب پکار دے

رڼا رڼا ده هرطرف ته ورنزدې شه ورته
ښکلا ښکلا ده هرطرف ته ورنزدې شه ورته
دَ انسانانو لاس کښې هرخواته کتاب پکار دے
ددې ګلانو لاس کښې هرخواته کتاب پکار دے

ددې په وجه ترقی هریو انسان کړے ده
ترقی تا احمده ! هم په هر مکان کړے ده
دَ طالبانو لاس کښې هرخواته کتاب پکار دے

ددي ګلانو لاس کښي هرخواته کتاب پکار
دے

..........................................................................

## قلم

تهوپك مي نه دے، زما موري يو قلم پكار دے
چي خراب نه وي ماالههغسي قلم سَم پكار دے
په دي به ليكم په كاپو كښي هرسبق ذَ ورځي
مدام به ليكم تلو راتلو كښي هرسبق ذَ ورځي
ښنګه چي ماسره دي غم،، تاسره غم پكار دے
چي خراب نه وي ماله هغسي قلم سَم پكار دے
بيشك ارزان دي وي هغه، هغه ډير ګران دي نه وي
زما په پلار باندي دير بوج ددي جهان دي نه وي
څومره چي كم لري قيمت، هغسي كم پكار دے
چي خراب نه وي ماله هغسي قلم سَم پكار دے
زمونږ په كلي كښي راوړي دُوكاندار مونږ له دي
څيزونه هغه تهول راوړي ښۀ تيار مونږ له دي
ملګري ماله ذَكتاب په هر موسم پكار دے
چي خراب نه وي ماله هغسي قلم سَم پكار دے

په دي قلم به په تختي ، زۀ په کاپي کښي ليکم
پښتو ، اُردو ، خبري دا به انګريزي کښي ليکم
زما دَ جهل مقابله کښي دغه بم پکار دے
چي خراب نه وي ماله هغسي قلم سَم پکار دے
زۀ په دي باندي خطونه ، سبقونه ليکم
زۀ به احمدعلي په دي ټول جوابونه ليکم
ماله دا غوره ، عزت داره ، محترم پکار دے
چي خراب نه وي ماله هغسي قلم سَم پکار دے

.................................................................

## خوشخطي

ضروري ده ضروري ده
هر ماشوم له خوشخطي ده
چي خط سَم کړي هر ماشوم
ليکي خط ښکلي خپل نوم
اهم دي کښي نګراني ده
ضروري ده ضروري ده
کۀ اُردو ده ، کۀ پښتو ده
خوشخطي لاره په تلو ده

ډیره کمه اُوس باقي ده
ضروري ده ضروري ده

انګریزي خوشخطي غواړي
رياضي خوشخطي غواړي
لازمي په کښې سختي ده
ضروري ده ضروري ده

نګراني د استاذ کار دے
د ماشوم ښه مددګار دے
لازمي ډيره خواري ده
ضروري ده ضروري ده

په خپل کلاس کښې په قلم
خپل ليکل دی کړي تهول سَم
د شاګرد دا شاګردي ده
ضروري ده ضروري ده

طريقه ئې د نيولو
کار دے اصل د کوُلو
ستا احمده! اُستاذي ده
ضروري ده ضروري ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



..........................................................

# تختې

وسیله د خوشخطي ده
څه دی څه دی ؟ ، دا تختې ده
زۀ املا پۀ دې لیکمه
بۀ اعلا پۀ دې لیکمه
ما لیکلي پۀ سیې ده
څه دی څه دی ؟ ، دا تختې ده
جوړه شوې د لرګی نه
د لرګی بۀ قیمتی نه
ما اخستې پۀ روپې ده
څه دی څه دی ؟ ، دا تختې ده
دا راکړي ده ملګری
ګاونډی زمونږ د کلی
ډیر غریب یمه ، پردې ده
څه دی څه دی ؟ ، دا تختې ده
بۀ پۀ دې لیکم پۀ شوق

(c) ketabton.com: The Digital Library



## الف بې لیکم په شوق

وسیله د کامیابۍ ده
څه دي څۀ دي ؟ ، دا تختي ده

تول لیکم په دي سوالونه
هم احمد زۀ جوابونه

زما مل په زندګي ده
څه دي څۀ دي ؟ ، دا تختي ده

..............................................................

## اخبار

فائده مند دے ډیر د کار دے
دا اخبار دے دا اخبار دے

د ملك قوم لرى خبرونه
مضمونه، کالمونه

په کښې چاپ دی تصویرنه
ورته لاندي وى نومونه

د هرچا د خیال اظهار دے
دا اخبار دے دا اخبار دے

چاپ کوی دغه پریسونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې دي ټول اخبارونه

جمع شوي رپورټونه
اشتهاريا بيانونه
اخلي څوك چې طلبګار دے
دا اخبار دے دا اخبار دے

كه كركټ دے كه فټ بال دے
په سُرخې كښې په كمال دے
مستقبل دے او كه حال دے
هر خبر ئې بې مثال دے
مجرمانو له حصار دے
دا اخبار دے دا اخبار دے

په قيمت پوره په شل دے
داسې نه ده چې په سل دے
هغه ګران چې وائي، بل دے
هر خبر زمونږه خپل دے
ته بيدار شه، تل بيدار دے
دا اخبار دے دا اخبار دے

هر يو ملك كښې دا چاپ كيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په قیمت دغه خرخیږی
په اسانه ملاویږی
هغوی کوری چې پوهیږی
بیا اوچت کړۀ په لار دے
دا اخبار دے دا اخبار دے

دَ مذهب خبري دي کښي
ستا دَرب خبري دي کښي
دَ ادب خبري دي کښي
دَ مکتب خبري دي کښي
دَ احمدعلی گفتار دے
دا اخبار دے دا اخبار دے

................................................................

## پښتون

میلمستیا دَ پښتون نخښه
ښه اعلا دَ پښتون نخښه
هر پښتون دَ بل عزت کړي
په خپل قوم پوره غیرت کړي
تل وفا دَ پښتون نخښه

ښه اعلا دَ پښتون نخښه

بل ته درونـد کوی نظر

نه ئې سوچ وی دَ ضرر

هر خوا دا دَ پښتون نخښه

ښه اعلا دَ پښتون نخښه

حیاداره په صورت وی

حسنداره په عادت وی

حق وینا دَ پښتون نخښه

ښه اعلا دَ پښتون نخښه

دَ خپل وروَر سره ولاړ وی

دَ کمزور سره ولاړ وی

خوئې باچا، دَ پښتون نخښه

ښه اعلا دَ پښتون نخښه

دا اوصاف دَ هر پښتون دی

ستا احمده! دَ ژوندون دی

تل تقویٰ دَ پښتون نخښه

ښه اعلا دَ پښتون نخښه

.......................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حجره

دا زمونږ دَ قوم حجره ده
دَ پښتون کلچر حصه ده

ځائي دَ ټولو ميلمنو دے
ځائي دَ ټولو قُربنو دے

هر ماشوم له مدرسه ده
دا زمونږ دَ قوم حجره ده

درانه خلق په کښې ناست وي
درانه خلق په کښې ملاست وي

په کښې ناسته هر جرګه ده
دا زمونږ دَ قوم حجره ده

غم ښادي په دې کښې کيږي
خلق دلته راغونډيږي

دَ استوګنې ځائي دمه ده
دا زمونږ دَ قوم حجره ده

په هر کلي کښې موندي شي
دا الحمد ده ! ښه ليدي شي

يا کچه وي يا پخه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا زمونږ دَ قوم حجره ده

................................................................

## زميندار

دَ پټي چې دَ چا کار دے
زميندار دے زميندار دے
پياز الو کرلي دۀ دي
بياساتلي هغه بۀ دي
اُويه خور کړي ، چې ئې وار دے
زميندار دے زميندار دے
دۀ بيلچې په اُوګه کړے
خپل پټي ته دۀ ده وړُے
نۀ غريب دے نۀ مالدار دے
زميندار دے زميندار دے
دۀ کرلي هم غنم دي
اُوس تريشل ته هغه سم دي
په تادي دے په تلوار دے
زميندار دے زميندار دے
دَ ګنو فصل د دۀ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



دۀ کرلے خومره ښۀ دے

دَ کـانـي پـه انتظار دے
زميندار دے زميندار دے

دۀ جوار کرلی ځان لـه
دۀ خپل کور لـه خاندان لـه
څوك دَ وږو طلبګار دے؟
زميندار دے زميندار دے

کۀ بادرنګ دی کۀ بينډي دی
دۀ کرلی پـه خواري دی
څوك خوراك تـه ئي ايسار دے
زميندار دے زميندار دے

کچالان دی کۀ کدوان دی
دا ټيپر کـه دَ جهان دی
څوك خدمت تـه ئي تيار دے
زميندار دے زميندار دے

پـه هرچا دۀ احسان دے
ستا احمده! حق بيان دے
دَ فصل پـه انتظار دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



زميندار دے زميندار دے

..............................................................

# اتفاق کښې برکت دے

دروغ نه دي ، حقيقت دے
اتفاق کښې برکت دے
کار چې کله درته گران شي
اتفاق چې وي اسان شي
حقيقت دے چې رحمت دے
اتفاق کښې برکت دے
ورسره کورونه روغ وي
د دُنيا دا زړونه روغ وي
چرته وي چې ، غټ نعمت دے
اتفاق کښې برکت دے
دا قطره قطره باران شي
مور اُوبو سره جهان شي
وايه څه په کښې عبرت دے
اتفاق کښې برکت دے
جمع ډکې شي بيا جاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځان خبر له مثاله

ښه ښکاره ئي فضيلت دے
اتفاق کښې برکت دے

په يو يو بوتې ځنګل شي
يو يو ښخته شي محل شي
دَ ناصح کار نصيحت دے
اتفاق کښې برکت دے

يو يو جمع شي لښکر شي
يو يو کاڼې شي نو غر شي
يو يو فرد نه جوړ اُمت دے
اتفاق کښې برکت دے

يو يو تکي شي تقرير شي
يو يو تکي شي تحرير شي
څومره ښکلې وضاحت دے
اتفاق کښې برکت دے

دانې جمع په يو يو وي
که بيا سيروي يا که پو وي
دا عمل ښه دَ قوّت دے

اتفاق کښې برکت دے

خوښ مدام احمده! ستا دے
هر مثال له بل جُدا دے
دَ هر در حُسن زینت دے
اتفاق کښې برکت دے
دَ هرچا دا ښۀ عادت دے
اتفاق کښې برکت دے

..........................................................

## علم لوئې دولت دے

تهول عزت دے، تهول عزت دے
علم زده کړه، لوئې دولت دے
چې عالم شی نو بینا شی
ښه اُوچت شی، ښۀ اعلا شی
وی فقیر، هغه باچا شی
مستحق دَ هر دُعا شی
پوخ ورسره عمارت دے
علم زده کړه، لوئې دولت دے
حاصلیږی په تکلیف دا

دغه علم هر طرف ته
ملاوېږي په تکلیف دا
دغه علم هر طرف ته
یُو محتاج ورته حاجت دے
علم زده کړه، لوئي دولت دے
دَ هر کور حُسن ښکلا ده
دا وینا حقه رښتیا ده
دَ هر لور حُسن ښکلا ده
حق وینا دَ هر دانا ده
نور دي ټول، نورانیت دے
علم زده کړه، لوئي دولت دے
دا زده کېږي مدرسو کښې
کۀ طالب ئي ته دَ علم
جماتونو کښې، حجرو کښې
کۀ طالب ئي ته دَ علم
کۀ ته ۀ غواړي ښۀ صفت دے
علم زده کړه، لوئي دولت دے
کتابونو نه زده کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورنزدي شته هر كتاب ته
بيانونه زده كيږي
ورنزدي شه هر محراب ته

هدايت دے، شرافت دے
علم زده كړه، لوئي دولت دے

علم زده كړي، طبيبان شي
سائنسدانان شي، پائلټان شي
درانه خلق شي شاهان شي
امامان شي، اُستاذان شي
هرچا كړے چي محنت دے
علم زده كړه، لوئي دولت دے

سرۀ او سپين، دَ ژوند لعلونه
اے احمده! هر طرف ته
دَ چمن ښكلي ګلونه
اے احمده! هر طرف ته
لوئي نعمت دے، عبادت دے
علم زده كړه، لوئي دولت دے

..........................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مزدور

مۀ کوه مۀ کوه ظلمونه په مزدور باندي
نصيحت نه کړې څه اثر په لاشعور باندي

ستا نه ستا بوج دۀ اُوچت کړے تاله منډي وهي
دَ مه ئي نيشته دے هروخت هرچاله منډي وهي
په درد غمژنه ، زياتي مۀ کړه په رنځور باندي
مۀ کوه مۀ کوه ظلمونه په مزدور باندي

سحر ماښام ددي دُنيا دے په کارونو ستړے
ګرځي په کار پسي مدام وي په ښارونو ستړے
کار په ګرمي کښي ددۀ وي سَم په تنور باندي
مۀ کوه مۀ کوه ظلمونه په مزدور باندي

رزق حلال ګټي ، څه تانه دلته غلا نه کوي
سوالونه نۀ کوي ، دَ خپل ضمير سودا نه کوي
ظلمونه کله دي روا په بي قصور باندي؟
مۀ کوه مۀ کوه ظلمونه په مزدور باندي

دَ الله دوست دے په طلب چي دَ حلال ګرځي څوك
په تن ئي دوړے ،سر بير،داسي هرحال ګرځي څوك
دښمن دي نه دے ، ظلم مۀ کړه په غيور باندي

مۀ کوه مۀ کوه ظلمونه په مزدور باندي

کار ترینه ډیر اخلی ، اُجرت ورله چې کم ورکوی

بې له څه وجې بل بشر له چې غم ورکوی

کله عمل دے په قرآن باندي دا په دستور باندي

مۀ کوه مۀ کوه ظلمونه په مزدور باندي

ورسره ښه ، ورسره هرخوا ته احسان پکار دے

قدر دَ هر مزدور احمده ! په جهان پکار دے

دَ الله خوښ دے څکه ګران دے پاك حضور ﷺ باندي

مۀ کوه مۀ کوه ظلمونه په مزدور باندي

..............................................................

## مزدور

دَ مزدور ملګري زۀ یم

دَ مجبور ملګري زۀ یم

چې نه لري هیڅ قصور

دَ بې قصور ملګري زۀ یم

دَ حقوق چې ترجمان وی

دَ دستور ملګري زۀ یم

دَ حلال په تل طلب کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



### دَ رنځور ملګري زۀ یم

بې غیرته مې خوښ نه وی
دَ غیور ملګري زۀ یم
د دانا سړی کړم مرسته
دَ شُعور ملګري زۀ یم
په دې ټول دې ښۀ خبر شی
دَ تربور ملګري زۀ یم
ښه ښکاره احمده! هر خوا
دَ هر نُور ملګري زۀ یم

.......................................

## قائد اعظیم محمد علی جناحؒ

قائد زمونږ دَ ټولو محمد علی جناحؒ
روان وۀ په اُصولو محمد علی جناحؒ
نعره ئي ، اتحاد پسي تنظیم مدام ایمان
سفیر دَ اتحاد ورته وئیلو ټول جهان
هر چا چې به یادولو محمد علی جناحؒ
روان وۀ په اُصولو محمد علی جناحؒ
تحریك دَ آزادي سره موجود به هر قدم

بس کار او صرف کار      ئې مشغله وه دَ عالم
خوشحاله په کار کولو محمدعلی جناح
روان وۀ په اُصولو محمد علی جناح

دَ دوی په کوششونو دي جوړ شوي پاکستان
ولاړ دَ مسلمان دَ حق دَ پاره په میدان
آواز به اُوچتولو محمد علی جناح
روان وۀ په اُصولو محمد علی جناح

دَ وخت دَ علما سره ولاړ وۀ څنګ په څنګ
دَ وخت دَ علما په مشوره کښې به وۀ رنګ
مشوره ، ځان پوهولو محمد جناح
روان وۀ په اُصولو محمد علی جناح

منلې مشرانو هغه ځان لره قائد
منلې کشرانو هغه ځان لره قائد
قائد هم دَ همځولو محمد علی جناح
روان وۀ په اُصولو محمد علی جناح

چرته دَ مسلم لیګ چې به راجمع مشران وو
ورته چې مخامخ احمده ! کله کانګریسان وو
نو هلته ځان رسولو محمد علی جناح

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**